امارت اسلامی افغانستان
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**Ministry of Education**
د افغانستان اسلامي امارت

وزارت معارف — د پوهنې وزارت

ریاست عمومی دفتر
ریاست اسناد، تعقیب هدایات و احکام
آمریت اسناد و ارتباط
مدیریت عمومی اسناد

شماره: ع ۳۰۲۰

تاریخ: ۶/۱۵/ ۱۴۴۲ هـ ق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐


**د ښوونې او روزنې محترم معینیت ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

دا چې د پوهنې وزارت اړوند د نجونو ښوونځي بوازې له شپږم ټولګي څخه پورته تر امر ثاني پورې معطل دي خو په ځینې ولایتونو کې د نجونو دیني مدارس او له شپږم ټولګي څخه لاندې (له لومړي څخه تر شپږم) ټولګي د نجونو زده کوونکو پرمخ هم ښوونځي د محلي مسئولینو له لورې تړل شوي دي، په همدې اساس، هدایت درکول کیږي چې د دې مکتوب له صدور څخه وروسته د ښځینه وو مدارس په بشپړ ډول د فعالیت اجازه لري او له لومړي ټولګي تر شپږم ټولګي زده کوونکې نجونې کولای شي په ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې زده کړې ترسره کړي.

همدارنګه له شپږم ټولګي څخه ښکته د زده کړو هغه ټولګي چې د مؤسساتو لخوا تطبیق کیږي او د پوهنې وزارت لخوا د فعالیت جواز لري د هغوی ښځینه زده کوونکې خپلو زده کړو او ښځینه ښوونکې یې خپلو دندو ته د شرعي حجاب په رعایت او په پوره اطمینان سره ادامه ورکولای شي.

که چیرې سیمه ایزو مسئولینو له لورې په دې برخه کې کوم مزاحمت کیږي، نو بیا رسماً دې ستونزه د پوهنې وزارت له اړوندو ادارو سره شریکه کړي.

والسلام

الحاج مولوی حبیب الله آغا

د پوهنې وزارت سرپرست وزیر


Ministry of Education
Mohammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan
Email: Info@moe.gov.af/ (+93) 20 210 49 87

وزارت معارف
محمد جانخان وات کابل - افغانستان
Email: Info@moe.gov.af - (+93) 020 210 4987


Scanned with CamScanner